# ازدواج آغاز مرحله تشکیل خانواده

بشربخاطربقای وازدیاد نسل به پیدایش ضرورت داشته است. بقای بشروقتی تضمین میشودکه مانع وخللی در راه بقای وی وجود نداشته باشد. یعنی حق حیات اوراسلب نکندمتجاوزبرحقوق وی صورت نگیردونسل اومحفوظ ومحترم باشد.

ازنظر اسلام ازدواج وتشکیل خانواده یک حق طبعی وتابع اصول فطری است وانتخاب آن بایدآزادانه وباحفظ اصول طرفین صورت گیرد. دین مبین اسلام جهت جلوگیری ازبی بندوباری خوداری اززنا وفحشا وتوسعه نسل بشر در روی زمین پیروان خود رابه ازدواج وتشکیل خانواده تشویق کرده وباورکردن هرگونه رهبانیت وترک دنیا درسوره مبارکه نور آیه 32 چنین دستورمیدهد.

ترجمه: (کسانی ازشما که ازدواج نکرده اندبامردان وزنان صالح ازدواج نمایند. اگرفقیرباشد خداوند (ج) آنانرا به فضل خودبی نیازمیسازد. )

رسم ازدواج از زمانهای سابق تاحال نابسامانی های را درخود داشته است. که این نابسامانی ها ازعنعنات ناپسند جامعه سرچشمه گرفته ومیگیرد. این رسم وعنعنات ناپسند به شکل گسترده آن دامنگیرمردم جامعه ما افغانها می باشد. بطور مثال ولور گرفتن زیاد، ازدواجهای اجباری، به بد دادن دختران، محروم ساختن دختران بعد از ازدواج ازفراگرفتن علم ودانش ویا انجام وظایف وبخاطر همین رسم رواج های ناپسند است، که دربین فامیل ها تشنج به وجود آمده وفضای سالم خانواده ازبین میرود وخشونت ببارمیاید. ولور گرفتن زیادکه سبب سفرهای خارجی جوانان بخاطربدست آوردن پول میشود که حتی بعضی ازجوانان معتاد به موادمخدر وبامشکلات دیگرروبروگردیده که باعث رنج درفامیل میشود.

به بد دادن دختران است که بخاطر رسوم ناپسند دختران بالغ ونابالغ خود را دربدمیدهند به شکل فشرده میخواهیم یاد آورشویم که ازدواج آغازمرحله تشکیل خانواده است.

(پیامبربزرگوار اسلام حضرت محمد (ص) جوانان رابه ازدواج تشویق نموده است واز پیروان خودخواسته است که درصورت داشتن توانائی ازدواج نمایند.)

درکشور عزیزما افغانستان مخصوصاً درولایت لوگرجامعه که ما زندگی می کنیم دراکثر موارد ازدواج بجای اینکه آغازمرحله تشکیل خانواده شودباعث دوری دو دلداده میگردد. که علل آن را درموارد مثلی ولور گرفتن زیاد، ازدواج های اجباری وامثال آن می توان برشمیرد. هدف ازنوشتن این مقاله علمی بالخصوص برشمردن عنعنات ورسوم ناپسند که در ازدواج شامل شده اشت برجسته ساختن آن است. که اتخاذتدابیر لازم جهت حل این معضله می باشد.

دراین مورد ازتمام علما وریاست امورزنان احترامانه تقاضا مینمایم که جلسات دراین باره درهرگوشه وکنار قریه ها مساجد برگزارنموده تامردم در این مورد آگاهی حاصل نموده وازقوانین اسلامی در رابطه به ازدواج پیروی نمایند.

*ترتیب کننده: راضیه ((هاشمی))*

# دلیکوال او شاعر مسؤلیت

شاعر اولیکوال هغه ځوک دی چې دیوې ټولنې ټول درانه مسؤلیتونه ورته متوجه وي، دټولنې دپیښې دردونه، فکرونه، خیالونه اوسوچونه شاعراولیکوال یي په شعري اونثري ډول دټولنې وګړوته په داسې نازکواولطیفو ویناوو رسوي، چې د دوی ټول دردونه اوکړاونه لرې کولای شي. دشاعرلپاره دا اړین کاردی چې خپل ولس ته دخدمت ترسره کولو اودهغوی په درد اوغم باندې خپل مسؤلیت څرګند کړي، ځکه ددوی په وس کې دداسې ډیروچاروترسره کیدوقوت شته اومسؤلیت هم دټولنې شاعرانواو لیکوالانوته په ګوته کیږي.

نن ورځ ټول شاعران، لیکوالان، فرهنګیان اوادب مینه وال په دې ژمن ووسي، چې دهمدې ټولنې دسوکالۍ، هوساینې، ترقي اوپرمختګ لپاره په میړانه اوپه رښتینولۍ سره کاروکړي، دولس لپاره لیکنې اوشعرونه په داسې کلمو باندې رنګین کړي، چې دیوالې، سولې، وروروليې، پرمختګ، جوړونې او رغاوونې پیغامونه ولري. دهغو کلمو چې هغه دنفاق، جنګ، جګړو، ژبني او توکمیز تعصبات لرونکي وي ښه به داوي، چې په لیکنوکې رانه وړل شي او ددغوکلیمو پر وړاندې قلمي مبارزې ولس ته یي په لیکنې ډول وړاندې کړي. لیکوال اوشاعر خپل لیکنې د ولس دخدمت لپاره ځانونه ستې کوي، ټولنه دعلم او ادب په ګاڼه سمبالوي، دپوهې کچه دخلکو په ذهنونوکې رسموي، خلک هڅوي تر څو دلیکل شوي نثر اویاشعر هماغه مطلب چې شاعر اویا لیکوال لیکلې دي ولس خپل ځان جوړه وي او دوطن او خپلې ټولنې لپاره دخدمت جوګه ګرزي، یعنې هرشاعر اولیکوال په دې مسؤل دي، چې خپلې لیکنې داسلامي او افغاني کلتور د ارزښت په رڼاکې ولیکي اوټولنه دهغې اغیزې لاندې راولي، ترڅو خلکو ته د ذهنیت په ورکړې سره؛ دوی وهڅول شي، چې دهیوادآبادولو او جوړولو لپاره لاسونه راونغاړي او کومې ناخوالې او بدبختۍ چې زمونږ په ګران افغانستان کې سر وهي هغه له منځه ولاړې شي.

قلمي مبارزه دهرډول مبارزو نه داسې قوي او ستره مبارزه ده، چې نړۍ ددې مبارزې په برکت دساینس او ټکنالوژۍ څخه برخمن پاتې شوې، که چیرته لیکوال او شاعر دځان په پیژندنه کې که فکر وکړي، دا به ورته جوته شي، چې دمثبتو لیکنو سره؛ هغه مجازي نړۍ ته به سر ورووهي، کوم چې دټکنالوژۍ څخه زیږنده ده اوکه چیرته کوم ادبي لیکوالان چې منفي لیکنوته مخه کړي دابه ورته څرګند شي چې ولسي ټولنه به له کومو بدبختیو سره مخامخ شي.

نو ټولو ادبي اوفرهنګي لیکوالانو اوشاعرانو ته پکار ده، چې مثبتې اوهغه لیکنې چې ټولنه د سمون لورې ته ځي، ترخپل وس اوتوان لیکنې وکړي، د تیتو اوپرکو لیکنو څخه دې په کلکه ډډه وشي.

شیرمحمد «امیني» ستانکزی

# دخوښي مرکزي جامع جومات

خوښۍ ولسوالۍ چې دلوګرمرکزپل علم په شل کیلومټري؛ دشمال ختیځ لورې ته موقعیت لري، ښکلې سیمه او دره ده، چې خلک یي په بزګرې، سوداګري، بڼوالي، ښوونې او روزنې او په نورو برخوکې بوخت دي، یاده ولسوالۍ دتاریخ په اوږدو کې؛ لرغوني ځایونه، سیمې او آبدې لري. چې دهغې له ډلې څخه یو تاریخي مرکزي جامع جومات دی، چې دغه جومات دولسوالۍ په مرکز کې جوړشوی، چې د ۸۵ کالو څخه زیات لرغونتیا اوقدامت لري، دغه جومات دخاور اوخښتو څخه په ۵۰۰ متره مربع ځمکې کې جوړ، چې اوږدوالې یي ۹۰ متره او پلنوالې یي ۱۵ متره دی. ددې جومات په منځ کې اته دخښتو پایې (ستنې) د چت د کلکوالې په موخه کارول شوې. ددې تاریخي جومات محراب هم په ډیرښایسته ډول چې په کې دقرانکریم یوڅومبارک آیتونه په ښکلې لیک سره لیکل شوي هم دي. دجومات بهر برنډه شته، چې د دوبې په موسم کې دخوښۍ ولسوالۍ اوسیدونکي دلمونځ کولو په موخه ګټه ورځنې اخیستلی شي. ددغې تاریخي جومات دانګړ ځمکه دري جریبه ده، چې اوسمهال پکې د میوه لرونکي اوغیرې میوه لرونکي ونې په کې کینول شویدي. په دې تاریخي جامع جومات کې په یو وخت کې د ۸۰۰ تنو لمونځ کوونکو دځایدو وړتیا لري. دغه جومات دوه منارونه چې اوږدوالې یې کابو څلورو مترو ته رسیږي اویاد جومات ته یي ښکلا وربښلې ده.

انجنیر عبدالشکور دخوښي ولسوالۍ یوتن مخور دیاد جومات په اړه داسې وویل: دغه مسجد د۸۵ کلونو تاریخي قدامت لرونکی جومات د ه، چې دخوښۍ ولسوالۍ د لرغونې اوتاریخي جوماتونو څخه ګڼل کیږي، چې دخوښۍ ولسوالۍ وګړي دجمعې او اخترونو د ورځې لمونځونه اداء کوي. ده وویل: ددې مسجد ترڅنګ یو بل نوی جومات چې دیوې نیمې بسوې ځمکې پر سر رغوول شوی دخوښۍ ولسوالۍ نږدې وګړي دژمې په موسم کې دهوا دیخوالې له امله په دې جومات کې خپل لمونځونه اداء کوي. عبدالشکور؛ دجومات دبیا رغونې او خرابوالې په اړه وویل، دغه جومات دوه ځلې دخلکو په مرسته ځینې تخریب شوي ځایونه او درنګ ورکولو په موخه ترمیم شوی. عبدالشکور دچت دلرګیو دخرابوالې لامل یي دهوا د رطوبت له کبله یو ډول کوچني حشرې چې د (وینا) په نوم یادیږي دچت لرګي یي څه ناڅه تخریب کړي دي. انجنیر عبدالشکور دجومات دساتنې اوبیا رغاونې په هکله داسې څرګندونې وکړې: «که چیرته دولت ددې مسجد په رغاونې اوبیا جوړونې کې خپلې مرستې وکړي، ددې سیمې خلک دا هوډ (تصمیم) لري، چې دغه مسجد په خپل څرنګوالې پاتې اوترڅنګ یي بل مسجد ورغول شي.» ددې مسجد مؤذن آغا ګل وویل: په دې تاریخي مسجد کې دخوښۍ ولسوالۍ داهل تشیع او اهل تسنن خلک بې له کوم نفاق او تعصب سره ټولیږي خپل



لمونځونه اداء کوي. هغه زیاته کړه، چې دولت او دولسوالۍ خلک باید دداسې تاریخي ځایونو په ساتلو کې زیاته پاملرنه وکړي، ترڅو زمونږ ملي شتمنۍ او لرغوني ځایونه په پوره توګه خوندي او زمونږ نوې زیږندو (نسلونو) لپاره تاریخ پاتې شي.

داطلاعاتو اوفرهنګ ریاست دتاریخي آبداتو مدیرجلات خان سرخابي؛ دتاریخي سیمو، آبدو اوآرام ځایونو دساتلو او پاملرنې په اړه داسې وویل: «لوګرولایت کې تاریخي آبدې، سیمې او لرغوني ځایونه شتون لري، چې دهغې په ساتنه کې دفزیکي عواملو په وړاندې باید جدي پاملرنه وشي. که چیرته دیاد شوو تاریخ لرونکي آبدو ته پاملرنه ونه شي دغه تاریخي آبدې (لرغوني ځایونه) دوخت په تیریدو سره به له منځه ولاړې شي.

سرخابي زیاته کړه، داطلاعاتو اوفرهنګ ریاست، دګرځندوی آمریت او دتاریخي آبداتو مدیریت د اطلاعاتو اوفرهنګ وزارت، دګرځندوی ریاست او قومي مشرانو څخه غوښتنه داده، چې د تاریخي سیمو، آرام ځایونو او دلرغوني ځایونو په ساتنه اوپاملرنه کې د تاریخي آبداتو له مدیریت سره همکاری او مرسته وکړي. هغه وویل: ، په لوګرولایت کې تاریخي آبدې داسلامي دورې له تاریخي آبداتو څخه ګڼل کیږي. چې لوګري ولس باید ددغو لرغونو ځایونو ساتنه او ورته زیاته پاملرنه وکړي.»

پاتې دنه وي، چې په لوګر او دیا ولایت په ولسوالیوکې زیاتې لرغوني سیمې، ځایونه او آبدې شتون لري. چې دولت او ځایی مسؤلین دهغو په ساتنه اوپاملرنه کې خپلې هڅې نورهم ګړندي کړي، ترڅو زمونږ ملي فرهنګ نورهم غښتلي شي.

«امیني»

# علم وارزش آن

دین مقدس اسلام به دانش ودانشمند؛ آموزش وآموزگارتعلیم وتعلم راخیروفضیلت داده است. به همین منظوردر دین مقدس اسلام بهترین صدقه وزکات آنست که انسان علم ودانش رابیاموزدوآنرا به دیگران آموزش دهد. چنانچه خداوند (ج) درقرانکریم میفرماید ترجمه: ای محمد (ص) بخوان آن چیزراکه به تووحی میشود. باید گفت: انسان درهرجاکه زندگی میکند ناگزیراست برای درک حقایق وکسب خوشی وسعادت سعی وتلاش نماید تاعلم رابیاموزدتا ازتاریکی جهل ونادانی بسوی روشنی که عبارت ازعلم ودانش است حرکت نماید. همچنان یگانه وسیله که بشررا دراین راستامدد وهمکاری مینماید دانستن سواد واندوختن دانش است. علم ودانش نه تنها عامل است که توسط آن میتوان ازمزایای مادی ومعنوی آن برخوردارمیشویم بلکه تکامل روحی انسان وپیمودن راه توحید بدون علم وفهم غیرممکن است.

درقرانکریم الله (ج) فرموده است که: آیاکسانیکه میدانند برابراند باکسانیکه نمیدانندهرگزنه. همانطوریکه محرومان علم ودانش را توانائی درک وتشخیص نیست بلکه قدرت عرضه خدمات خوب وارزنده راهم ندارد. درکشورعزیزما افغانستان اگرچه مثل سوادآموزی ومجادله علیه جهل ونادانی سابقه طولانی دارد وقبل ازاینکه معارف عصری روی کارآید بزرگترین وموفق ترین اماکن تعلیمی وتربیوی مساجد بوده است، که شاگردان باگذشت زمان وروی کارآمدن تعلیمات عصری درکشورساحه این مجادله وسیع ترومؤثرترشده درچند سال اخیرکامیابی های چشمگیروامیدوارکننده دراین زمینه بدست آمده که دیدانصاف نمی توان آنرا نادیده گیرد.

حالااگرمتوجه شویم که سطح علمی بالارفته زیراکه درهرقریه ودیارمکاتب اعمارگردیده وشاگران مصروف آموزش میباشد ونظربه سالهای قبل علم ودانش به سرعت گسترش یافته ومردم ازجهالت وبدبختی به روشنی سوق گردیده است.

ترتیب کننده: هاشمي

# حقوق زن در جامعه اسلامی

نظربه هدایات کلام مقدس الهی درمورد یکسان بودن مرد وزن درجامعه اسلامی صراحت داشته وجودمرد وزن حیثیت یک پیکر درجامعه دارد، هیچگاه نمیتواندمردی بدون وجود زن وزنی بدون وجودمرد ازنظرخلقت زنده گی مستقلانه راداشته باشد.

تمام هستی انسانها درقاموس مکتب اسلام زن ومردلازم وملزوم یکدیگربوده، احیا وعمران زندگی بشریت درپیرامون مسولیت های این مدیریت عظیم انسانی از(آدم وحوا) تشکیلات خویش را پایه گزاری نموده روی این وسیله بزرگ انسانی است که ازپیدایش انسان تاامروزکه مرحله معراج تمدن انسانی راپیموده است به بهترین آرامان تمدن انسانی رسیده اندویکی بعدی دیگری این چرخش تمدن عظیم انسانی کمال انسانیت را تا انقراض حیات عالم می پیماید.

پیغمبر (ص) درآخرین سال حجت الوداع خویش به تمام اصحاب کرام وبه امت مسلمه به عنوان یک فرمان فراخوان غرض آزادی وحراست ازحقوق زنها چنین حکم نموده اند: زنها نزدشما به عنوان انسانهای آزاد مومن، مشاور، ممدزندگی وهمپیکرشما ست واگرنه در روزقیامت ازعواقب زندگی آنها ازشماپرسان خواهد شد. بااسلوب انسانی واسلامی دربرابرآنها رفتارنمایند. درصورتیکه خلاف کرامت بشری زندگی به اسارت، تحقیر، توهین وسلب آزادی ازفراگیری علم وغیره نمودید در روزقیامت ازکوائیف آنها خداوند (ج) ازشماباز پرس مینمایند.

نتیجه اینکه اسلام یک دین کامل است، نه تنها حقوق مردها وزنهای مسلمان را درپیرامون نص قرانکریم به صراحت واضح نموده بلکه مسؤلیت های بزرگی را برای آنهاوانمود کرده است.

پیغمبر (ص) میفرمایند: آسانی کنید برای مردم وبه مردم نفرت پیش نکنید ومردم راطمین سازید پس زنها میتواند به اساس محجوبه بودن لباس شرعی که وقار زنها حرایر اسلام را لطمه واردنکرده باشد به عنوان انسان بامسؤلیت درهمه شقوق زندگی یک جامعه دوشا دوش مردها سهیم باشند.

تهیه کننده: امین الله «صفا»